# الغافر

مکی سورة دی ۸۵ آیتونه لری

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

حمٓ ﴿١﴾

حا- میم ( په اصلی معنی یې الله تعالی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ښه پوهیږی.

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ﴿٢﴾

دا کتاب د برلاسی او پوه ذات الله تعالی له لوری نازل شوی دی.

غَافِرِ ٱلذَّنۢبِ وَقَابِلِ ٱلتَّوۡبِ شَدِيدِ ٱلۡعِقَابِ ذِي ٱلطَّوۡلِۖ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ إِلَيۡهِ ٱلۡمَصِيرُ ﴿٣﴾

(هغه ذات چې) د گناهونو ښښونکی، توبه منونکی، سخت مجازات ورکوونکی او د ډیرو زیاتو نعمتونو لرونکی دی. له هغه نه غیر، بل خدای نشته او ټول بالاخره د هغه حضور ته ورتلونکی دی.

مَا يُجَٰدِلُ فِيٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَلَا يَغۡرُرۡكَ تَقَلُّبُهُمۡ فِي ٱلۡبِلَٰدِ ﴿٤﴾

( انسانانو ته لازمه نه ده چې د الله تعالی د عظمت، قدرت، ربوبیت او مبارک کلام په باب، بې ځایه مناقشې او جنجالونه وکړی خو)دا یوازې کافران دی چې( قصداً او عمداً) د الله تعالی د آیتونو په باب له عناد او بې ادبۍ نه ډک جنجالی بحثونه تودوی( دغه ډول کسان هیڅ حیثیت او پایښت نه لری) نو په ښارونو کې د دوی په( نمایشی) منډو ترړو باید هیڅکله تیر نه وځې.

كَذَّبَتۡ قَبۡلَهُمۡ قَوۡمُ نُوحٖ وَٱلۡأَحۡزَابُ مِنۢ بَعۡدِهِمۡۖ وَهَمَّتۡ
كُلُّ أُمَّةِۭ بِرَسُولِهِمۡ لِيَأۡخُذُوهُۖ وَجَٰدَلُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ لِيُدۡحِضُواْ بِهِ
ٱلۡحَقَّ فَأَخَذۡتُهُمۡۖ فَكَيۡفَ كَانَ عِقَابِ ٥

**له دوی نه وړاندې، د نوح قوم، او بیا ورپسې نورو قومونو( خپل پیغمبران) دروغ وګڼل او هر امت هڅه وکړه چې خپل پیغمبر زندانی کړی( د دین له تبلیغ نه یې منصرف کړی او یا یې ووژنی) او د باطل په وسیله یې د حق د له منځه وړلو لپاره متې رانغښتې وې، خو ما هم په (سخت عذاب)راونیول( بیا یې ولیدل چې) عذاب څنګه و؟**

وَكَذَٰلِكَ حَقَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّهُمۡ أَصۡحَٰبُ
ٱلنَّارِ ٦

**په همدې توګه ستا د رب فرمان د کافرانو په باب صادر شو او د دوزخ په سخت عذاب محکوم شول.**

ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ
وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ
وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٧

**د عظیم عرش حاملین( ملائک) او په شاوخوا یې راټول شوی( مؤظف ملائک)ټول په حمد اوثنا سره د خپل رب تسبیحات وایی، په هغه کامل ایمان لری او د مؤمنانو لپاره د مغفرت دعاګانې کوی(او وایی:) ای ربه! رحمت او علم دې په ټولو مخلوقاتو حاوی او خپور دی، نو هغو کسانو**

**ته چې( له خپلو ګناهونو) توبه وباسی او ستا د احکامو پیروی کوی ښئنه وکړه او د دوزخ له عذابه یې وژغوره.**

رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ
ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ
ٱلۡحَكِيمُ ٨

**ای زمونږ ربه! هغوی او نیک او صالح پلرونه، ښځې او اولادونه یې په هغو تلپاتې جنتونو کې ځای په ځای کړه چې تا ورسره وعده کړې، بیشکه چې ته( د خپلو ټولو اقداماتو او احکامو په تطبیق او انفاذ) برلاسی او حکیم ذات یې.**

وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ
وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ ٩

**او هغوی د بدو اعمالو له ارتکاب( او په قیامت کې له غم او پریشانۍ او اضطراب) نه لیرې وساته او څوک چې په دغه ورځ له عذابه وژغورل شی، نو ستا د رحمت وړ ګرځیدلی او لوی بریالیتوب یې په برخه شوی دی.**

إِنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يُنَادَوۡنَ لَمَقۡتُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُ مِن مَّقۡتِكُمۡ
أَنفُسَكُمۡ إِذۡ تُدۡعَوۡنَ إِلَى ٱلۡإِيمَٰنِ فَتَكۡفُرُونَ ١٠

**کافرانو ته به (دوزخ ته له ورننوتو سره سم) غږ وشی: نن چې تاسو د عذاب په لیدلو څومره په قهر یاست او پخپلو ځانونو لعنتونه وایئ، د الله تعالی قهر هغه وخت له دې ډیر زیات و، چې په دنیا کې به تاسو ته د ایمان بلنه درکړی کیده او تاسو به د کفر اوعناد لاره غوره کوله.**

قَالُواْ رَبَّنَآ أَمَتَّنَا ٱثۡنَتَيۡنِ وَأَحۡيَيۡتَنَا ٱثۡنَتَيۡنِ فَٱعۡتَرَفۡنَا بِذُنُوبِنَا فَهَلۡ إِلَىٰ
خُرُوجٖ مِّن سَبِيلٖ ﴿١١﴾

**دوی به ووایی: ای زمونږ ربه مونږ ته دې دوه ځله مرګ او دوه ځله ژوند راکړی( نو که دریم ځل مو هم بیرته دنیا ته ولیږې نیک عملونه به وکړو او د مؤمنانو پحیث به ستا حضور ته راشو). اوس مونږ پخپلو ګناهونو اعتراف کوو، نو آیا له دوزخه د وتلو او نجات کومه لار شته؟**

ذَٰلِكُم بِأَنَّهُۥٓ إِذَا دُعِيَ ٱللَّهُ وَحۡدَهُۥ كَفَرۡتُمۡ وَإِن يُشۡرَكۡ بِهِۦ
تُؤۡمِنُواْۚ فَٱلۡحُكۡمُ لِلَّهِ ٱلۡعَلِيِّ ٱلۡكَبِيرِ ﴿١٢﴾

**( ورته به وويل شي: دغه د عذاب شدت) له دې امله دی چې کله به تاسو ته د الله تعالی د وحدانیت د منلو بلنه درکړی کیده، تاسو به ترې انکار کاوه او کله چې به د شرک( په تائید خبرې) کیدې نو ورباندې به مو باور کاوه. اوس قضاوت او فیصله د لوی الله تعالی په واک کې ده.**

هُوَ ٱلَّذِي يُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُنَزِّلُ لَكُم مِّنَ ٱلسَّمَآءِ رِزۡقٗاۚ وَمَا
يَتَذَكَّرُ إِلَّا مَن يُنِيبُ ﴿١٣﴾

**( الله تعالی) هغه ذات چې تاسو ته د خپل قدرت نښې او دلایل بیانوی او له آسمانه درته روزی(باران چې د روزی منبع ده) نازلوی او له دغه حقیقت نه یوازې هغه کسان د عبرت درس اخلی چې( له شرک او معصیت نه توحید ته) راګرځی.**

فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ﴿١٤﴾

**نو( ای انسانی پرګنو!) په پاک او سپیڅلی احساس او ایمان سره د الله تعالی عبادت وکړی، که څه هم ستاسو دغه عمل د کافرانو د ناخوښئ او نفرت سبب شی.**

رَفِيعُ ٱلدَّرَجَٰتِ ذُو ٱلۡعَرۡشِ يُلۡقِي ٱلرُّوحَ مِنۡ أَمۡرِهِۦ عَلَىٰ مَن يَشَآءُ مِنۡ
عِبَادِهِۦ لِيُنذِرَ يَوۡمَ ٱلتَّلَاقِ ﴿١٥﴾

**( الله تعالی د مؤمنانو) د درجاتو لوړوونکی او د عرش څښتن دی، په خپلو بندګانو کې هر چاته چې یې اراده وشی( د وحې پرښته) روح ورلیږی( او امر ورته کوی) چې خلک( د قیامت) د ورځې له ملاقات نه خبردار او تنبیه کړی.**

يَوۡمَ هُم بَٰرِزُونَۖ لَا يَخۡفَىٰ عَلَى ٱللَّهِ مِنۡهُمۡ شَيۡءٞۚ لِّمَنِ ٱلۡمُلۡكُ ٱلۡيَوۡمَۖ لِلَّهِ ٱلۡوَٰحِدِ
ٱلۡقَهَّارِ ﴿١٦﴾

**هغه ورځ چې دوی ټول به (له قبرونو څخه راوتلی او په یوه هوار میدان کې به) حاضر ولاړ وی او د هیچا ( کوم عمل به) له الله تعالی نه پټ پاتې نشی، (او غږ به وشی:) د چا ده نن واقعی اقتدار او ټولواکی؟ بیشکه چې ټوله واکمنی، د واحد او پیاوړی ذات، الله تعالی ده.**

ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَىٰ كُلُّ نَفۡسِۭ بِمَا كَسَبَتۡۚ لَا ظُلۡمَ ٱلۡيَوۡمَۚ إِنَّ ٱللَّهَ
سَرِيعُ ٱلۡحِسَابِ ﴿١٧﴾

**نن به هر چاته د هغه د کړنو بدله ورکړی شی، نن په هیچا ظلم زیاتی نشته، بیشکه چې د الله تعالی د حساب کتاب سیستم ډیر چټک دی.**

وَأَنذِرۡهُمۡ يَوۡمَ ٱلۡأٓزِفَةِ إِذِ ٱلۡقُلُوبُ لَدَى ٱلۡحَنَاجِرِ كَٰظِمِينَۚ مَا
لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ حَمِيمٖ وَلَا شَفِيعٖ يُطَاعُ ﴿١٨﴾

**(ای پیغمبره! خلکو ته) د نږدې ورځې( قیامت) د راتلو خبرداری ورکړه، هغه وخت چې( د ویرې او دهشت د شدت له امله به) زړونه تالو ته راشی او (هر سړی) به په غم کې ډوب وی. ظالمان به هیڅ داسې مهربان دوست او شفاعت کوونکی و نه مومی چې سفارش یې( د دوی د نجات لپاره) ومنل شی.**

يَعۡلَمُ خَآئِنَةَ ٱلۡأَعۡيُنِ وَمَا تُخۡفِي ٱلصُّدُورُ ١٩

(الله تعالی) هغه خاینې سترګې چې( نامحرمو ته ګوری)ډیرې ښې پیژنی، او د زړونو په ټولو پټو اسرارو هم ډیر ښه خبر دی.

وَٱللَّهُ يَقۡضِي بِٱلۡحَقِّۖ وَٱلَّذِينَ يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ لَا يَقۡضُونَ بِشَيۡءٍۗ إِنَّ
ٱللَّهَ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ ٢٠

الله تعالی په حق فیصله کوی او هغه باطل خدایان چې (مشرکین) یې د هغه په مقابل کې عبادت کوی، هیڅ قضاوت او فیصله نشی کولی، بیشکه چې الله تعالی( د ټولو خبرو) اوریدونکی او( د ټولو اعمالو) لیدونکی ذات دی.

۞أَوَلَمۡ يَسِيرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَيَنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ كَانُواْ مِن
قَبۡلِهِمۡۚ كَانُواْ هُمۡ أَشَدَّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗ وَءَاثَارٗا فِي ٱلۡأَرۡضِ فَأَخَذَهُمُ ٱللَّهُ
بِذُنُوبِهِمۡ وَمَا كَانَ لَهُم مِّنَ ٱللَّهِ مِن وَاقٖ ٢١

آیا دوی په ځمکه کې نه ګرځی ترڅو د هغو خلکو انجام او عاقبت ووینې چې له دوی وړاندې تیر شوی، او له دوی نه ډیر زیات پیاوړی وو، په ځمکه کې یې ډیر مستحکم آثار( هسکې ماڼۍ او نظامی استحکامات) درلودل، خو الله تعالی د ګناهونو د ارتکاب له امله( په سخت عذاب) راونیول، او بیا یې د الله تعالی د مؤاخذې په مقابل کې هیڅ مدافع او ملاتړی نه درلود.

ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَانَت تَّأۡتِيهِمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَكَفَرُواْ فَأَخَذَهُمُ
ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ قَوِيّٞ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٢٢

**دغه( دردوونکې سزا) ځکه ورکړی شوې چې پیغمبرانو ورته روښانه دلایل راوړل خو هغوی( په تکبر او عناد سره) د کفر لاره غوره کړه، نو الله تعالی هم (په سخت عذاب) اخته کړل ځکه الله پاک پیاوړی او د سخت عذاب ورکوونکی ذات دی.**

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ﴿٢٣﴾

**او بیشکه چې مونږ، موسی له خپلو معجزو او څرګند دلیل سره ولیږه.**

إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَهَٰمَٰنَ وَقَٰرُونَ فَقَالُواْ سَٰحِرٞ كَذَّابٞ ﴿٢٤﴾

**فرعون، هامان او قارون ته، خو هغوی(په ځواب کې) وویل چې (موسی) یو دروغجن جادوګر دی.**

فَلَمَّا جَآءَهُم بِٱلۡحَقِّ مِنۡ عِندِنَا قَالُواْ ٱقۡتُلُوٓاْ أَبۡنَآءَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ وَٱسۡتَحۡيُواْ نِسَآءَهُمۡۚ وَمَا كَيۡدُ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٖ ﴿٢٥﴾

**کله چې( موسی) زمونږ د حق پیغام هغوی ته ابلاغ کړ، نو( فرعون او چارواکو یې) امر وکړ چې د موسی د مؤمنو ملګرو ځامن دې له یوې مخې له تیغه تیر شی، او ښځمنې دې یې( د بیګار او شاقه خدمت لپاره) ژوندی وساتل شی، خو د کافرانو ټولې دسیسې او چلوټې ناکامې او د دوی پخپلې رسوایۍ او ذلت تمامې شوې.**

وَقَالَ فِرۡعَوۡنُ ذَرُونِيٓ أَقۡتُلۡ مُوسَىٰ وَلۡيَدۡعُ رَبَّهُۥٓۖ إِنِّيٓ أَخَافُ أَن يُبَدِّلَ دِينَكُمۡ أَوۡ أَن يُظۡهِرَ فِي ٱلۡأَرۡضِ ٱلۡفَسَادَ ﴿٢٦﴾

او فرعون وويل: ( ای زما مشاورينو! )ما پرېږدئ چې موسی ووژنم، او دی دې( د ځان ساتنې لپاره) خپل رب راوغواړی. زما ويره دا ده چې( که دی ژوندی پاتې شی) ستاسو دين به بدل کړی او يا به په دې خاوره کې د فساد او ګډوډئ اور بل کړی.

وَقَالَ مُوسَىٰٓ إِنِّي عُذۡتُ بِرَبِّي وَرَبِّكُم مِّن كُلِّ مُتَكَبِّرٖ لَّا يُؤۡمِنُ
بِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ٢٧

او موسی وويل: زه د هر متکبر سرکش نه چې د حساب په ورځ ايمان نه لری، هغه ذات ته پناه وړم چې هم زما او هم ستاسو رب دی.

وَقَالَ رَجُلٞ مُّؤۡمِنٞ مِّنۡ ءَالِ فِرۡعَوۡنَ يَكۡتُمُ إِيمَٰنَهُۥٓ أَتَقۡتُلُونَ
رَجُلًا أَن يَقُولَ رَبِّيَ ٱللَّهُ وَقَدۡ جَآءَكُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ مِن رَّبِّكُمۡۖ وَإِن
يَكُ كَٰذِبٗا فَعَلَيۡهِ كَذِبُهُۥۖ وَإِن يَكُ صَادِقٗا يُصِبۡكُم بَعۡضُ
ٱلَّذِي يَعِدُكُمۡۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي مَنۡ هُوَ مُسۡرِفٞ كَذَّابٞ ٢٨

او د فرعون د کورنئ يو مؤمن سړی چې خپل ايمان يې( تر دغه وخته) پټ ساتلی و، وويل: آيا داسې سړی وژنئ چې وايی: زما رب الله تعالی دی؟ او ستاسو د رب له لوری يې تاسو ته روښانه دلايل راوړی. که هغه دروغ وايی، نو د دروغو زيان يې خپل دی، او که رښتيا ويونکی وی نو د هغه عذاب يوه برخه به په تاسو راپريوزی چې دی يې درته وعده درکوی، ځکه الله تعالی هغه چاته نيکه لار، نه ښايی چې چارې يې د اسراف او دروغو په بنسټ ولاړې وی.

يَٰقَوْمِ لَكُمُ ٱلْمُلْكُ ٱلْيَوْمَ ظَٰهِرِينَ فِى ٱلْأَرْضِ فَمَن يَنصُرُنَا مِنۢ
بَأْسِ ٱللَّهِ إِن جَآءَنَا ۚ قَالَ فِرْعَوْنُ مَآ أُرِيكُمْ إِلَّا مَآ أَرَىٰ وَمَآ أَهْدِيكُمْ
إِلَّا سَبِيلَ ٱلرَّشَادِ ﴿٢٩﴾

**ای زما قومه! نن د دې ځمکې واکمنی ستاسو په لاس کې ده، او تاسو يې واکمنان ياست، خو که د الله تعالی عذاب راشی څوک به راسره د نجات لپاره مرسته وکړی؟ فرعون وويل: زما رايه ستاسو لپاره غوره او معتبره ده( چې موسی بايد له منځه لاړ شی) او زه ستاسو د خير او نيکمرغۍ خبره کوم.**

وَقَالَ ٱلَّذِىٓ ءَامَنَ يَٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُم مِّثْلَ يَوْمِ ٱلْأَحْزَابِ ﴿٣٠﴾

**او هغه مؤمن سړی وويل: ای زما قومه! ويره مې داده چې په تاسو به هم د نورو قومونو په شان د( عذاب) ورځ راشی.**

مِثْلَ دَأْبِ قَوْمِ نُوحٍ وَعَادٍ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعْدِهِمْ ۚ وَمَا ٱللَّهُ يُرِيدُ ظُلْمًا
لِّلْعِبَادِ ﴿٣١﴾

**هغه ورځ چې په عاديانو او ثموديانو او له هغوی نه په وروستيو قومونو راغلې وه، الله تعالی پخپلو بندګانو هيڅکله هم د ظلم اراده نه لری( بلکه همدا انسانان دی چې پخپله د ګناهونو په ارتکاب سره په ځانونو ظلم کوی).**

وَيَٰقَوْمِ إِنِّىٓ أَخَافُ عَلَيْكُمْ يَوْمَ ٱلتَّنَادِ ﴿٣٢﴾

**او ای قومه ويريږم چې په تاسې به د چيغو او فرياد ورځ راشی( هغه ورځ چې خلک به يوبل ته د مرستې چيغې نارې وهی خو هيڅوک به د چا د درد دوا نشی).**

يَوْمَ تُوَلُّونَ مُدْبِرِينَ مَا لَكُم مِّنَ ٱللَّهِ مِنْ عَاصِمٍۗ وَمَن يُضْلِلِ ٱللَّهُ فَمَا لَهُۥ مِنْ
هَادٍ ٣٣

هغه ورځ چې تاسو هر یو به( د عذاب د شدت له امله هره خوا) په شا تښتئ( خو بیرته به راګرځول کیږئ) او د الله تعالی له عذاب نه به هیڅ ناجی او ساتونکی پیدا نه کړئ، او څوک چې الله تعالی یې د( کبر او عناد له امله) بې لاری کړی، بل هیڅ لارښود به و نه مومی.

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ يُوسُفُ مِن قَبْلُ بِٱلْبَيِّنَٰتِ فَمَا زِلْتُمْ فِى شَكٍّ مِّمَّا
جَآءَكُم بِهِۦۖ حَتَّىٰٓ إِذَا هَلَكَ قُلْتُمْ لَن يَبْعَثَ ٱللَّهُ مِنۢ بَعْدِهِۦ
رَسُولًاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ مُّرْتَابٌ ٣٤

او له دې وړاندې یوسف هم تاسو ته څرګند دلایل راوړی وو، خو تاسو تل د هغه په باب په شک او تردید کې واست، تر څو هغه له دنیا لاړ، او بیا تاسو ویل چې د هغه له مرګه وروسته به الله تعالی بل پیغمبر را ونه لیږی، په دې توګه الله تعالی هر مسرف تردیدوونکی ګمراه کوی.

ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْۖ كَبُرَ مَقْتًا
عِندَ ٱللَّهِ وَعِندَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ ٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ قَلْبِ
مُتَكَبِّرٍ جَبَّارٍ ٣٥

هغه کسان چې د الله تعالی د آیتونو په باب بې دلیله ناندرئ او بحثونه کوی، دغه عمل یې د الله تعالی او مؤمنانو لپاره د سختې دښمنئ وړ دی، په دې توګه الله تعالی د هر کبر کوونکی بې رحمه سرکش په زړه د( بدبختئ) ټاپه لګوی.

وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَٰهَٰمَٰنُ ٱبْنِ لِى صَرْحًا لَّعَلِّىٓ أَبْلُغُ ٱلْأَسْبَٰبَ ٣٦

او( فرعون) وویل: ای هامانه زما لپاره یوه لوړه آسمان څکې ماڼۍ جوړه کړه چې ورباندې(
پورته د آسمان لیارو او) دروازو ته ورسیږم.

أَسۡبَٰبَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ فَأَطَّلِعَ إِلَىٰٓ إِلَٰهِ مُوسَىٰ وَإِنِّي لَأَظُنُّهُۥ كَٰذِبٗاۚ
وَكَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِفِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ عَمَلِهِۦ وَصُدَّ عَنِ ٱلسَّبِيلِۚ وَمَا
كَيۡدُ فِرۡعَوۡنَ إِلَّا فِي تَبَابٖ ٣٧

د آسمان په لیارو، تر څو د موسی د رب معلومات وکړم( چې څوک دی او چیرته دی). ما ته خو
موسی دروغجن ښکاری.( الله تعالی فرمایي:)او په دې توګه مو، فرعون ته د هغه ناوړه عمل
ښه ښکاره کړ، چې د الله تعالی له لارې لیرې پاتې شو. او بیشکه چې د فرعون پلان او دسیسه
د زیان او تباهۍ سره مخامخ وه.

وَقَالَ ٱلَّذِيٓ ءَامَنَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُونِ أَهۡدِكُمۡ سَبِيلَ
ٱلرَّشَادِ ٣٨

او هغه مؤمن سړی وویل: ای قومه! زما پیروی وکړئ چې نیکه لار درته وښایم.

يَٰقَوۡمِ إِنَّمَا هَٰذِهِ ٱلۡحَيَوٰةُ ٱلدُّنۡيَا مَتَٰعٞ وَإِنَّ ٱلۡأٓخِرَةَ هِيَ دَارُ
ٱلۡقَرَارِ ٣٩

ای زما قومه دا د دنیا ژوند یوه بې ارزښته او نا پایښته متاع ده، خو د آخرت ژوند بې له شکه
ابدی او تلپاتې دی.

مَنۡ عَمِلَ سَيِّئَةٗ فَلَا يُجۡزَىٰٓ إِلَّا مِثۡلَهَاۖ وَمَنۡ عَمِلَ صَٰلِحٗا مِّن
ذَكَرٍ أَوۡ أُنثَىٰ وَهُوَ مُؤۡمِنٞ فَأُوْلَٰٓئِكَ يَدۡخُلُونَ ٱلۡجَنَّةَ
يُرۡزَقُونَ فِيهَا بِغَيۡرِ حِسَابٖ ٤٠

ځوک چې بد عمل وکړی د هماغه بد عمل سزا به وینی او کوم نارینه یا ښځه چې نیک کار وکړی او مؤمن هم وی نو جنت ته به ورځی او بې حسابه روزی به یې په برخه وی.

۞ وَيَٰقَوۡمِ مَا لِيٓ أَدۡعُوكُمۡ إِلَى ٱلنَّجَوٰةِ وَتَدۡعُونَنِيٓ إِلَى ٱلنَّارِ ٤١

او ای قومه، د تعجب وړ ده چې زه تاسو( له دنیوی او اخروی بدمرغۍ نه) د نجات لور ته رابولم او تاسو ما اور ته راکاږۍ.

تَدۡعُونَنِي لِأَكۡفُرَ بِٱللَّهِ وَأُشۡرِكَ بِهِۦ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ عِلۡمٞ وَأَنَا۠ أَدۡعُوكُمۡ إِلَى ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡغَفَّٰرِ ٤٢

تاسو، ما دې ته هڅوۍ چې( معاذالله) له الله تعالی نه منکر او کافر شم (او د جاهلانو او ناپوهانو په شان) له هغه سره داسې شریکان غوره کړم، چې د الوهیت لپاره یې هیڅ علمی دلیل او بنسټ نشته او زه تاسو د برلاسی او ببښونکی ذات( الله تعالی) په لور رابلم.

لَا جَرَمَ أَنَّمَا تَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِ لَيۡسَ لَهُۥ دَعۡوَةٞ فِي ٱلدُّنۡيَا وَلَا فِي ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَنَّ مَرَدَّنَآ إِلَى ٱللَّهِ وَأَنَّ ٱلۡمُسۡرِفِينَ هُمۡ أَصۡحَٰبُ ٱلنَّارِ ٤٣

ثابته خبره دا ده (هغه باطل خدایان) چې تاسو ورته ما رابولۍ په دنیا او آخرت کې ورته د الوهیت او ربوبیت (او چاته د ګټې او ضرر رسولو)هیڅ قوت نشته، او مونږ ټول د الله تعالی حضور ته ورګرځو، او بیشکه چې له حده تیری کوونکی د دوزخ اوسیدونکی دی.

فَسَتَذۡكُرُونَ مَآ أَقُولُ لَكُمۡۚ وَأُفَوِّضُ أَمۡرِيٓ إِلَى ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱللَّهَ بَصِيرُۢ بِٱلۡعِبَادِ ٤٤

نو زر ده چې تاسو به زما د خبرو په حقیقت ښه پوه شۍ او زه خپلې ټولې چارې الله تعالی ته سپارم، بیشکه چې الله تعالی د خپلو بندګانو په( اقوالو او افعالو) ډېر ښه لیدونکی دی.

فَوَقَىٰهُ ٱللَّهُ سَيِّـَٔاتِ مَا مَكَرُواْۖ وَحَاقَ بِـَٔالِ فِرۡعَوۡنَ سُوٓءُ
ٱلۡعَذَابِ ٤٥

**نو الله تعالی، د فرعونیانو ټولې دسیسې شنډې کړې او( موسی او ټول مؤمنان یې) د هغوی له شر نه په امن کې وساتل او په فرعونیانو یې سخت عذاب رانازل کړ( چې ټول د قلزم په بحیره کې ډوب شول).**

ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ
ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ ٤٦

**(عذاب یې) اور دی چې( په عالم برزخ کې به) سهار ماښام ورته ورښودل کیږی، او د قیامت په ورځ به( اعلان وشی:) ورننوزئ ای فرعونیانو تر ټولو سخت عذاب ته.**

وَإِذۡ يَتَحَآجُّونَ فِي ٱلنَّارِ فَيَقُولُ ٱلضُّعَفَـٰٓؤُاْ لِلَّذِينَ
ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا كُنَّا لَكُمۡ تَبَعٗا فَهَلۡ أَنتُم مُّغۡنُونَ عَنَّا
نَصِيبٗا مِّنَ ٱلنَّارِ ٤٧

**او چه کله د اور په لمبو کې له یو بل سره په جګړو او ناندرو واوړی، نو ضعیفان به خپلو متکبرو مشرانو ته وایی چې مونږ خو( په دنیا کې) ستاسو نوکران او پیروان وو، اوس خو دا اور څه نا څه را نه کم کړئ.**

قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا كُلّٞ فِيهَآ إِنَّ ٱللَّهَ قَدۡ حَكَمَ
بَيۡنَ ٱلۡعِبَادِ ٤٨

**مستکبرین او باداران به یې ووایی: مونږ خو ټول یو شان په اور کې پراته یو. بې له شکه چې الله تعالی د خپلو بندګانو ترمنځ( د عدالت او انصاف په رڼا کې) فیصله کړې ده.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ فِي ٱلنَّارِ لِخَزَنَةِ جَهَنَّمَ ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ يُخَفِّفۡ عَنَّا
يَوۡمٗا مِّنَ ٱلۡعَذَابِ ﴿٤٩﴾

**په اور کې پراته کسان( چې کله له خپلو مشرانو څخه مايوسه او ناهيلې شی) نو د دوزخ ساتونکو پرښتو ته به ووايی چې رب ته مو زمونږ لپاره دعا وکړی ترڅو يوه ورځ عذاب خو له مونږ نه کم کړی( او مونږ لږه شان د آرام سا واخلو).**

قَالُوٓاْ أَوَلَمۡ تَكُ تَأۡتِيكُمۡ رُسُلُكُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِۖ قَالُواْ بَلَىٰۚ قَالُواْ
فَٱدۡعُواْۗ وَمَا دُعَٰٓؤُاْ ٱلۡكَٰفِرِينَ إِلَّا فِي ضَلَٰلٍ ﴿٥٠﴾

**( د دوزخ ساتونکی به ورته) ووايی: آيا پيغمبرانو درته روښانه دلايل نه وو راوړی؟ دوی به ووايی: هو راوړی يې وو. ( ساتونکی به) ووايی:( که هر څومره دعاوی وکړئ او ښبني وغواړئ خو وخت تير دی او اوس) د کافرانو دعا نه منل کيدونکې ده.**

إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ
ٱلۡأَشۡهَٰدُ ﴿٥١﴾

**حقيقت دا دی چې مونږ له خپلو پيغمبرانو او مؤمنانو سره په دنيوی ژوند او د ګواهانو د احضاريدو په ورځ مرسته کوو.**

يَوۡمَ لَا يَنفَعُ ٱلظَّٰلِمِينَ مَعۡذِرَتُهُمۡۖ وَلَهُمُ ٱللَّعۡنَةُ وَلَهُمۡ سُوٓءُ
ٱلدَّارِ ﴿٥٢﴾

**هغه ورځ چې ظالمانو ته به يې معذرتونه هيڅ ګټه ونه لری،بلکه د الله لعنت او ( د دوزخ) بد کور به يې په برخه وی.**

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْهُدَىٰ وَأَوْرَثْنَا بَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ
ٱلْكِتَٰبَ ﴿٥٣﴾

او بیشکه چې مونږ موسی ته هدایت( تورات) ورکړی او همدغه کتاب مو بنی اسرائیلو ته په میراث پری ایښی و.

هُدًى وَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٥٤﴾

هغه کتاب چې( سر تر پایه) د عقل او پوهې د خاوندانو لپاره د پند او نصیحت ذخیره وه.

فَٱصْبِرْ إِنَّ وَعْدَ ٱللَّهِ حَقٌّ وَٱسْتَغْفِرْ لِذَنۢبِكَ وَسَبِّحْ بِحَمْدِ
رَبِّكَ بِٱلْعَشِىِّ وَٱلْإِبْكَٰرِ ﴿٥٥﴾

نو( ای پیغمبره! ته هم د پخوانیو پیغمبرانو په شان) په صبر او ثبات سره خپل رسالت ته دوام ورکړه، بیشکه چې د الله تعالی وعده حقه ده( او د دښمنانو ټولې دسیسې او ناوړه پلانونه به شنډ کړی نو ای د مبارک قرآن مخاطبه!) له رب نه د خپلو تقصیراتو ښښنه وغواړه او سهار ماښام یې ثنا او تسبیحات بیانوه.

إِنَّ ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ بِغَيْرِ سُلْطَٰنٍ أَتَىٰهُمْ ۙ إِن
فِى صُدُورِهِمْ إِلَّا كِبْرٌ مَّا هُم بِبَٰلِغِيهِ ۚ فَٱسْتَعِذْ بِٱللَّهِ ۖ
إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ﴿٥٦﴾

هغه کسان چې د الله تعالی د آیتونو( او آسمانی کتابونو او انبیاو د معجزو د بطلان لپاره) بې دلیله مناقشې او بحثونه کوی، زړونه یې له غرور او تکبر له هغو ناوړو هیلو او اهدافو نه ډک دی) چې هیڅکله هم ورته رسیدلی نشی نو( له دغو کسانو نه) الله تعالی ته پناه یوسه بیشکه چې الله تعالی( د هغوی د ټولو اقوالو او افعالو) اوریدونکی او لیدونکی ذات دی.

لَخَلْقُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ أَكْبَرُ مِنْ خَلْقِ ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ٥٧

**( د لويو جسامت لرونکو) آسمانونو او ځمکې د ايجاد او پيدايښت کار( چې الله تعالی پخپل قدرت سرته رسولی) د انسان له خلقت نه ډير لوی او دروند دی. خو زياتره خلک د حقايقو په معرفت نه پوهيږی( او له خپل دويم ځل ژوند نه منکريږی).**

وَمَا يَسْتَوِى ٱلْأَعْمَىٰ وَٱلْبَصِيرُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ وَعَمِلُوا۟
ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَلَا ٱلْمُسِىٓءُ ۚ قَلِيلًا مَّا تَتَذَكَّرُونَ ٥٨

**او( لکه څنګه چې) يو ړوند، د ليد او بصيرت له خاوند سره برابر نه دی، نيک عمله مؤمنان هم له مفسدينو سره نشی پرتله کيدی. لږ شان( په دغو حقايقو) فکر وکړئ.**

إِنَّ ٱلسَّاعَةَ لَءَاتِيَةٌ لَّا رَيْبَ فِيهَا وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يُؤْمِنُونَ ٥٩

**قيامت خامخا او بې له شکه راتلونکی دی، خو زياتره خلک پرې ايمان نه لری( او په غرور او تکبر سره ترې انکار کوی).**

وَقَالَ رَبُّكُمُ ٱدْعُونِىٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ
عِبَادَتِى سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ٦٠

**او ستاسو رب وايي: ماته دعا وکړئ چې دعا مو قبوله کړم، څوک چې زما له عبادته په تکبر سره غاړه غړوی، ډير زر به خوار او ذليل دوزخ ته وغورځول شی.**

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِتَسْكُنُوا۟ فِيهِ وَٱلنَّهَارَ مُبْصِرًا ۚ
إِنَّ ٱللَّهَ لَذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يَشْكُرُونَ ﴿٦١﴾

**الله تعالی هغه ذات دی چې شپه یې ستاسو د راحت او آرام او ورځ یې درته د کار او فعالیت لپاره رڼه او روښانه پیدا کړه. ربښتیا چې الله تعالی په خلکو باندې د ډیر لوی فضل او مرحمت لوروونکی دی، خو زیاتره خلک یې( د نعمتونو او لورینو) شکر نه اداء کوی.**

ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ خَٰلِقُ كُلِّ شَىْءٍ لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ۖ فَأَنَّىٰ
تُؤْفَكُونَ ﴿٦٢﴾

**همدا دی ستاسو رب الله تعالی، چې د ټولو اشیاو او موجوداتو خالق او مؤجد دی، له هغه نه غیر بل خدای نشته، نو ولې (له حق نه) بې لارې کیږی؟**

كَذَٰلِكَ يُؤْفَكُ ٱلَّذِينَ كَانُوا۟ بِـَٔايَٰتِ ٱللَّهِ يَجْحَدُونَ ﴿٦٣﴾

**( لکه څنګه چې تاسو بې لارې یاست په هر عصر کې) د الله تعالی له آیتونو ټول منکرین هم له حق نه بې لارې دی.**

ٱللَّهُ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلْأَرْضَ قَرَارًا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءً
وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُم مِّنَ ٱلطَّيِّبَٰتِ ۚ
ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمْ ۖ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٦٤﴾

الله تعالی هغه ذات دی چې ځمکه یې ستاسو لپاره د امن او هوسایۍ وړ وګرځوله او آسمان یې( ورباندې د ټینګ او مستحکم) چت پحیث جوړ کړ. تاسو ته یې ښکلی صورتونه او ځیرې درکړې، او( ستاسو له طبیعت سره موافق) پاک خواړه یې در په برخه کړل. دا دی ستاسو رب الله تعالی، نو د ډیر برکت لرونکی دی الله تعالی د ټولو کایناتو رب.

هُوَ ٱلۡحَيُّ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ فَٱدۡعُوهُ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَۗ ٱلۡحَمۡدُ
لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٥

هغه( بې زواله) ژوندی ذات دی، له هغه نه غیر بل خدای نشته، نو په داسې مخلصانه توګه یې عبادت وکړئ چې ایمان او عبادت مو د هغه لپاره ځانګړی( او له هر ډول شرک نه پاک وی). د ډیرې زیاتې او کاملې ستاینې وړ دی الله تعالی د ټولو مخلوقاتو او کائناتو رب.

۞ قُلۡ إِنِّي نُهِيتُ أَنۡ أَعۡبُدَ ٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ لَمَّا جَآءَنِيَ
ٱلۡبَيِّنَٰتُ مِن رَّبِّي وَأُمِرۡتُ أَنۡ أُسۡلِمَ لِرَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٦٦

( ای پیغمبره!) ووایه زه د هغو باطلو خدایانو له عبادته چې تاسو د الله تعالی په مقابل کې غوره کړی، منع شوی یم، او د خپل رب له خوا راته( د توحید د حقانیت) روښانه دلایل راکړی شوی، او مؤظف یم چې یوازې د رب العالمین احکامو او فرمانونو ته غاړه کیږدم.

هُوَ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن تُرَابٖ ثُمَّ مِن نُّطۡفَةٖ ثُمَّ مِنۡ عَلَقَةٖ ثُمَّ
يُخۡرِجُكُمۡ طِفۡلٗا ثُمَّ لِتَبۡلُغُوٓاْ أَشُدَّكُمۡ ثُمَّ لِتَكُونُواْ شُيُوخٗاۚ
وَمِنكُم مَّن يُتَوَفَّىٰ مِن قَبۡلُۖ وَلِتَبۡلُغُوٓاْ أَجَلٗا مُّسَمّٗى وَلَعَلَّكُمۡ
تَعۡقِلُونَ ٦٧

**الله تعالی هغه ذات دی چې تاسو يې له خاورې پيدا کړی، بيا يې له نطفې، بيا يې له علقې، او بيا يې د ماشومانو په شکل د ميندو له ارحامو راوويستی، تر څو د قوت او پياوړتيا مرحلې ته ورسيږی، بيا زاړه او عمر خوړلی شوی، او ځينې مو دغې مرحلې ته له رسيدو وړاندې وفات کيږی او ځينې مو تر ټاکلې مودې ژوندی پاتې کيږی، ترڅو( د حق په باب) له تعقل نه کار واخلی.**

هُوَ ٱلَّذِى يُحۡىِۦ وَيُمِيتُۖ فَإِذَا قَضَىٰٓ أَمۡرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُۥ كُن
فَيَكُونُ ﴿٦٨﴾

**( او) هغه ذات دی چې ژوند او مرګ يې په واک کې دی، او د هر شی د خلقت او ايجاد اراده چې وکړی، همدومره امر ورته کوی چې« پيدا شه!» او بيا هماغه شی بې له ځنډه پيدا وی.**

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يُجَٰدِلُونَ فِىٓ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ أَنَّىٰ يُصۡرَفُونَ ﴿٦٩﴾

**آيا هغو کسانو ته نه ګورې چې د الله تعالی د آيتونو( د ابطال) لپاره مجادلې او مناقشې کوی، څنګه له (حق نه باطل ته ) منحرف کيږی.**

ٱلَّذِينَ كَذَّبُواْ بِٱلۡكِتَٰبِ وَبِمَآ أَرۡسَلۡنَا بِهِۦ رُسُلَنَاۖ فَسَوۡفَ
يَعۡلَمُونَ ﴿٧٠﴾

**هغه کسان چې زمونږ له قرآن او دينی احکامو څخه چې مونږ د خپلو انبياو په وسيله استولی انکار کوی، ډير زر به( د خپل انکار او عناد په ناوړه نتايجو) خبر شی.**

إِذِ ٱلۡأَغۡلَٰلُ فِىٓ أَعۡنَٰقِهِمۡ وَٱلسَّلَٰسِلُ يُسۡحَبُونَ ﴿٧١﴾

**کله چې يې د اور غاړه کی او ځنځيرونه په غاړو او اور ته راکښل شی.**

فِى ٱلۡحَمِيمِ ثُمَّ فِى ٱلنَّارِ يُسۡجَرُونَ ﴿٧٢﴾

**(لومړی) جوشيدلو اوبو او بيا اور ته وروغورزول شی.**

ثُمَّ قِيلَ لَهُمۡ أَيۡنَ مَا كُنتُمۡ تُشۡرِكُونَ ﴿٧٣﴾

بیا ورته وویل شی چیرته دی هغه باطل خدایان مو، چې له الله تعالی سره مو( په ربوبیت او اولوهیت کې) شریک ګڼل؟

مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالُواْ ضَلُّواْ عَنَّا بَل لَّمۡ نَكُن نَّدۡعُواْ مِن قَبۡلُ شَيۡـٔٗاۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧٤﴾

( هغه چې) د الله تعالی په ځای( مو ورته عبادتونه کول) دوی به ووایې: هغوی خو اوس ټول داسې زمونږ له سترګو پناه دی( لکه چې) بیخی مونږ د دوی عبادت کړی نه دی. په همدې توګه الله تعالی، کافران بې لارې کوی.

ذَٰلِكُم بِمَا كُنتُمۡ تَفۡرَحُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَبِمَا كُنتُمۡ تَمۡرَحُونَ ﴿٧٥﴾

(دغه عذابونه) په ځمکه کې ستاسو د ناحقه مزو چرچو او له غرور او تکبر نه د ډکو خنداګانو نتیجه ده.

ٱدۡخُلُوٓاْ أَبۡوَٰبَ جَهَنَّمَ خَٰلِدِينَ فِيهَاۖ فَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلۡمُتَكَبِّرِينَ ﴿٧٦﴾

اوس نو، ننوځئ د دوزخ په دروازو، او همدلته مو تلپاتې اوسیدل دی. رښتیا هم څومره بد ځای دی د متکبرینو د هستوګنې لپاره.

فَٱصۡبِرۡ إِنَّ وَعۡدَ ٱللَّهِ حَقّٞۚ فَإِمَّا نُرِيَنَّكَ بَعۡضَ ٱلَّذِي نَعِدُهُمۡ أَوۡ نَتَوَفَّيَنَّكَ فَإِلَيۡنَا يُرۡجَعُونَ ﴿٧٧﴾

نو( ای پیغمبره! د کافرانو او مشرکینو د زورونو او ګستاخیو په مقابل کې) له صبر نه ډکه سینه سپر کړه (او باوری اوسه چې) د الله تعالی وعده حقه ده. نو که دوی ته د ټاکل شویو عذابونو یوه برخه، ته پخپل ژوند ووینې، او که ستا د رحلت نه وروسته ورباندې نازل شی( هیڅ خبره نه ده، په هر حال) دوی زمونږ حضور ته راتلونکی دی( او د خپلو ناوړو اعمالو په سزا به محکوم شی).

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلٗا مِّن قَبۡلِكَ مِنۡهُم مَّن قَصَصۡنَا عَلَيۡكَ وَمِنۡهُم
مَّن لَّمۡ نَقۡصُصۡ عَلَيۡكَۗ وَمَا كَانَ لِرَسُولٍ أَن يَأۡتِيَ بِـَٔايَةٍ إِلَّا بِإِذۡنِ
ٱللَّهِۚ فَإِذَا جَآءَ أَمۡرُ ٱللَّهِ قُضِيَ بِٱلۡحَقِّ وَخَسِرَ هُنَالِكَ
ٱلۡمُبۡطِلُونَ ﴿٧٨﴾

**او مونږ ستا نه وړاندې، نور پيغمبران هم ليږلی، چې د هغوی د يو شمير د ژوند داستانونه مو تاته اورولی او د ځينو مو درته نه دی بيان کړی. هيڅ پيغمبر ته نه ښايی چې د الله تعالی له اجازې نه غير، کومه معجزه وړاندې کړی، او کله چې الله تعالی( د اسلام د لجوجو دښمنانو په باب) حکم صادر کړی، نو د حق (او عدالت) په رڼا کې به وروباندې فيصله وشی او همدا وخت دی چې باطل پرستان به له، نه جبرانيدونکی زيان سره مخامخ شی.**

ٱللَّهُ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَنۡعَٰمَ لِتَرۡكَبُواْ مِنۡهَا وَمِنۡهَا
تَأۡكُلُونَ ﴿٧٩﴾

**الله تعالی هغه ذات دی چې ستاسو لپاره يې څاروی پيدا کړی، چې ځينې يې ستاسو د سپرلۍ لپاره او د ځينو يې غوښې ستاسو د خوراک لپاره دی.**

وَلَكُمۡ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَلِتَبۡلُغُواْ عَلَيۡهَا حَاجَةٗ فِي صُدُورِكُمۡ
وَعَلَيۡهَا وَعَلَى ٱلۡفُلۡكِ تُحۡمَلُونَ ﴿٨٠﴾

**او ستاسو لپاره نورې ګټې هم لری، او هر خوا چې وغواړۍ خپل مالونه او وسايل وروباندې انتقالولی شۍ، او د څارويو او کښتيو په سپرلۍ( اوږده واټنونه هم وهلی شۍ).**

وَيُرِيكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ فَأَيَّ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ تُنكِرُونَ ﴿٨١﴾

**او( الله تعالی) تاسو ته( پرله پسې د خپل قدرت او ربوبيت) نښانې بيانوی، نو تاسو يې له کوم دليل او معجزې نه منکريږۍ؟**

أَفَلَمْ يَسِيرُوا۟ فِى ٱلْأَرْضِ فَيَنظُرُوا۟ كَيْفَ كَانَ عَـٰقِبَةُ ٱلَّذِينَ مِن
قَبْلِهِمْ ۚ كَانُوٓا۟ أَكْثَرَ مِنْهُمْ وَأَشَدَّ قُوَّةً وَءَاثَارًا فِى ٱلْأَرْضِ فَمَآ
أَغْنَىٰ عَنْهُم مَّا كَانُوا۟ يَكْسِبُونَ ﴿٨٢﴾

**آیا( دا خلک) په ځمکه کې نه ګرځی او په دقت نه ګوری چې د پخوانیو (منکرینو او سر غړوونکو) انجام څنګه و؟ هغوی چې هم په شمیر او هم په قوت کې له دوی نه زیات پیاوړی وو، او په ځمکه کې ترې ټینګې او مستحکمې کلاګانې او مانۍ پاتې شوې دی، خو شمیر او قدرت یې دوی( له الهی عذابه) و نه شو ژغورلی.**

فَلَمَّا جَآءَتْهُمْ رُسُلُهُم بِٱلْبَيِّنَـٰتِ فَرِحُوا۟ بِمَا عِندَهُم مِّنَ ٱلْعِلْمِ
وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُوا۟ بِهِۦ يَسْتَهْزِءُونَ ﴿٨٣﴾

**کله چې ورته پیغمبرانو روښانه دلایل راوړل، پخپله لږه شان پوهه چې ورسره وه ډیر خوښ وو( او په نور څه یې هیڅ فکر نه کاوه) خو بالاخره هغه عذاب راونیول چې دوی به ورباندې ملنډې وهلې.**

فَلَمَّا رَأَوْا۟ بَأْسَنَا قَالُوٓا۟ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَحْدَهُۥ وَكَفَرْنَا بِمَا كُنَّا بِهِۦ
مُشْرِكِينَ ﴿٨٤﴾

**نو کله چې یې زمونږ شدید عذاب ولید ویې ویل: بیشکه چې په واحد او لاشریک ذات الله تعالی مو ایمان راوړی او له خپلو باطلو خدایانو نه منکر یو.**

فَلَمْ يَكُ يَنفَعُهُمْ إِيمَـٰنُهُمْ لَمَّا رَأَوْا۟ بَأْسَنَا ۖ سُنَّتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى قَدْ خَلَتْ فِى
عِبَادِهِۦ ۖ وَخَسِرَ هُنَالِكَ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٨٥﴾

**خو د عذاب په لیدلو ورته ایمان راوړلو هیڅ ګټه ونه کړه. دا هغه الهی کړنلاره ده چې له ډیر پخوا نه د انسانی ډلګو په وړاندې را روانه ده( چې د عذاب په رارسیدو، بیا ایمان راوړل نه منل کیږی) او همدا وجه ده چې کافران له( نه جبرانیدونکی) زیان سره مخامخ دی.**

**« تمت سورة الغافر بفضل الله و عونه والحمد لله رب العالمین»**

====================